مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

خالق رشید

۲۰۲۴/۰۳/۱۰

# پټان کا یاري،

## شیرکا سواري!...

### لنده کیسه



نن مې دخپلې پخوانۍ بنګالی ټولګیوالې چې اوس د ددې هم په سرکې تور ویښته په ذربین کې نه لیدل کیږي، یوپخوانی لیک ترلاسه کړچې په سرکې یې راته په ګلابي رنګ لیکلي وو: پټان کا یاري شیرکا سواري ....د پښتون یاري ، د زمري سپرلي ...

زما دا ټولګیواله ان چې موږ لا زده کونکي وو، پرموږټولوښه لګیده، په تیره بیا پرما، په درسونوکې به مې لږاوډیره مرسته ورسره کوله، ځکه چې زه له دې سره په ټولګي کې یوازني څوک وم چې تیرکال د درسو په نیمایی کې ناروغه شوم اوټول کال به په اوونۍ کې یوه دوې ورځې راتلم خونوربه مې ډیری وختوله ډاکترانواوروغتونوسره وو، خوملګرومې نوټونه او لکچرونه راته را رسول.ځکه خو زه دتیرکال ناکام اوس ددې له پاره چې نوې راغلې وه په بیابان کې پڼه هم نعمت وم... نوم یې خوشي یا زموږ په پښوخوښي و، خو په څیره کې یې دخوښۍ یوه نښه هم له ورایه نه ښکاریده ...ښایسته هم نه وه ، خو خدای شته چې زما په ګډون به ټولودغه ټکی مانه چې غنم رنګې ده اونمکۍ ... پردغه ستایوال ټکي به ماته هم د حمید بابا شعر را یادشو هغه چې ثناالله خان لالا به په څوانۍ دکلکتې دسفرونوپرمهال تربنګالې پورې له ځان سره زمزمه کاوه اود خپل بایللي زړه بړاس به یې پرې ایسته ...

**هسې رنګ سحروجادو کا په نظرد شهلا سترګو**
**نه یې سیال په هند کې شته دی نه ثاني په بنګاله کې ...**

بله داچې دا زما لومړنۍ هندۍ ټولګیواله وه چې کله پوه شوه زه له کابله دلته راغلی یم، په هم هغه لومړنۍ کتنه کې یې یوه پوښتنه په داسې ډیل اوډال رانه وکړه چې ګواکې پوریې را باندې دی :

-کابلي والا دې لوستې؟

ورته موسکی شوم ،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

-نه، زه خپله کابلي والا یم ...
په موسکانه څیره یې راغبرګه کړه :
نه نه ، مطلب مې ته نه یې ...کابلي والا ... د ټاګور ...
زه نه پوهیدم اونه مې کله داسې څه یاني کابلي والا تراوسه لوستی و، یوازې دومره هغه هم د بینوا له برکته پوهیدم چې ټاګور دهندوستان دی...شاعر دی...اودګیتانجلي په نامه اثرلیکوال ...
زما په دغه ډنګي دیوال پاتې کیدو دې له نورو ټولګیوالوسره یوځای په کړیس کړیس را باندې وخندل، د ټولوله منځه دخوشي له خوله راووته :
-عجبه ده ، کابلي ، کابلي والا نه پیژني ...
یوه بل له هغې خوا را غږ کړ،
-دی هم لکه ګاندي جي چې نوی لندن ته د زده کړې په موخه ولاړ و،خلکوبه دهندویزم په باره کې پوښتنې ترکولې ده به ورته ویل نه پوهیږم) .... بیا کړیس کړیس خندا (...
خوشي چې په قد ترما لوړه وه ، زما پرسرېې خپل پوست لاس راتیرکړ :
-خیردی ، کابلي والا یوه کیسه ده چې له یوې بنګالي ماشومې سره د یوه کابلي والا سوداګردپلرنی مینې په باره کې ده چې هغه هم زموږ د بنګال ویاړرابیند رانات تاګور لیکلې ده ... په هند کې موږ دا په ماشومتوب کې لولو، اوزموږ میندې پلرونه یې ترخوبیدو دمخه تل په مینه مینه راته وایي .... **ونه و یوکابلي والا و... په کالکته کې ...**
زموږ درسونه په څوښ سره روان ول، هغه مهال نه کامپیوترو اونه هم انترنیت، دیوې ساده اولنډې لیکنې له پاره به مو ورځې ورځې د کتابتون دکتلاک روکونه په ماخذونوپسې لټول څوچې به موهغه ولیکله،اولابه مو زړه درزیده چې استاد به یې ومني اوکه نه ...
زه مې ترنورو ټولګیوالوډیرسرخرخنی وم، ما تردوی زیاتې ستونزې درلودې ځکه چې زما له پاره د درس ژبه هم نوې وه، کله کله خوبه مې ټولګیوالوپرژبنی وینګ باندې هم خندل ... داسې نه دی ، داسې دی ...
خو،خوشي بیا په دغه برخه کې زما ډیره مرستندویه وه... ځکه چې په موږټولوکې ښه انګریزي دې ویله ... ان چې کله خو به دی هم له همدې امله چې په موږ کې یې ساری نه و د حمید بابا نیم بیتی زموږ پرمخ را وویشت چې ګواکې په دغه برخه کې یوازې زه یم... زه ...
**نه یې سیال په هند کې شته دی نه ثاني په بنګاله کې ...**
د لومړی سمستر دریمه اوونۍ وه چې له دوو دریو ورځوروسته کومې نجلی ټولګي ته یوناڅاپه داخبر راووړ :
-خوشي امریکا ته لاړه ...
دغه خبرموږټول هیښلي کړو، یوه اوبل ته مو سره وکتل،
-دومره ناڅاپه ...
نجلی :
هو، پلاریې هلته پردنده ټاکل شوی ، داهم ورسره ولاړه ...
زه : بې له خدای پاماني ...
نجلی : ماته یې په تلیفون کې وویل چې دپلارتګ یې بیړني و، نور وخت نه وچې دلته راغلي وای ...
په رښتیاهم هغه دچا خبره دهغې د تګ په خبرمې زړه ځړیکه وکړه، خپه شوم، اوځان مې په مسافرۍ کې نورهم مسافراحساس کړاوموږټولوته زموږ دبنګالي ټولګیوالي دغه ناڅاپي سفرحیرانونکی واوخواشینونکی هم ، خوشي ولاړه .... اوزما زړه ته هم دا ورسیده **چې خوښي ډیره اوږده نه وي ...**
خوشي ولاړه، یومیاشت لا نه وه تیره شوې چې لیک یې راغی ، په یوه پاکټ کې دوه لیکونه ... خو پرپاکټ یې زما نوم اوپته لیکلي وه... یو زما له پاره اوبل هم زموږ د ټولګیوالوله پاره ... زما د لیک پرسرېې هم هغه مشهوره جمله چې دې به تل ماته ویله په ګلابي رنګ لیکلې وه ...**پټآن کا یاري ... شیرکا سواري ...**
ما یې دلیک ځواب ډیر زرولیکه، اوهغه مې د کالج له ډاکخانې نیغ یوه ورځ وروسته ورو استاوه، بس همدغه لیکونه وو چې موږبه یوه اوبل ته استول، ترهغوچې زه کابل ته ولاړم، ما واده وکړ، له هغه وروسته دکابل دجګړو غمیزې را پیل شوې، د بچیانوخاوند شوم، خوشي هم دامریکا شوه، هلته یې درس ووی اوهلته یې له کوم خپل بنګالي سره واده وشو ...خوزموږ رابطه د دوو ټولګیوالوپه توګه، نه په بل ډول... همداسې پرهم هغه کربښه روانه پاتې شوه چې :
**پټآن کا یاري ، شیرکا سواري ...**

****

دتیرنوي کال په لومړۍ اوونۍ کې مې له خپلې میرمنې سره مشوره وکړه چې غواړم ډیلي ته ولاړشم، هغې راسره ومنله اوخپله همیشنۍ خبره یې هم له خپلې مشورې سره ورغبرګه کړه :
-سمه ده که جنت ته هم دومره سرۍ ولاړشې، زړه یې ترصبرېرې خوستا به کله هم له هندوستانه نه شي ...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

راوخوځیدم، د ونکوور په هوايي ډګرکي درى ساعته انتظارشوم، ترڅوچي وخت پوره شو، اجمل زیاتره وختونه د بیزنس کلاس په ځنګ څوکی راته نیسی چي هغه یوڅه آرامه وي، اوله ډیرورانديِ وروسته هم سړی دلته بي غمه وي، داخل هم د الوتکي په دغه برخه کي له یوه ځوان سردارجی سره نږدې ديره شوم، خوشاله ځوان و، ځان یي را وپیژند چي د پنجاب ود ملیرکوټله او لوديانې ترمنځ چیرې اوسیده، ما هم ځان ور وپيژاند چي پښتون، افغان یم، خواوس د زماني توپان د باد وزر راڅخه جوړکړی،دادی نن مي یارانه له تاسره شوه ، لس پنځلس ساعته به سره مله وو ...

سردارجي را ته په خندا شو، او په خنداخندا کي یي ترخوله راووتل :

-سمه ده ، قبوله مي ده، خپه رانه نه شي، له بابامي اوريدلي ووچي :

**پټآن کا یاري ، شیرکا سواري ...**

سره ومو خندل، زموږ غږ لږاوچت شو، نږدې ناست کسان چي په هندي پوهیدل هغوی هم د ځوان سردارجی خبرې ته وخندل، خوزموږڅوکی ته په مخامخ کي بیزنس کلاس څوکۍ کي یوې مامره میرمني چي زما په عمربه وه ، مانا داچي د شصت وشکست پربیرۍ سپره وه زموږ په دغه خندا او دغه خبره په خپل څوکی کي را اوچته اوسره وښوریده، اوخدای شته چي زموږ پرلوریي پریوه بل ډول سره را وکتل ... ما زر سرکارته واچاوه، ځان مي د څوکۍ پرسکرین باندې بوخت وساته وډارشوم چي ګواکي زموږ خبره اوخندا لکه چي درنه پرې ولګیده ...په ځيرځیریي زموږ خواته را وکتل، ما ځان غلی ونیو، خودې لا هم راکتل اوڅه یي ونه ویل ...

الوتکه په الوتوشوه،ښکلي میلمه پالي زموږ مخي ته پرده را وغوړوله، او زموږمخي ته ناسته میرمن یي زموږله نظره پټه کړه، خوهرځل به چي بیا میلمه پاله زموږ برخي ته راننوته، بیابه زما اوهغي میرمني سترګي پریوه بل باندې لګیدې ...دیارلس څوارلس ساعته زموږد پردې په پورته کیدو سره تیریدل اوتیریدل، الوتکه د ډیلي فضا ته را ورسیده چي ځراغونه یي ولګیدل، میلمه پالي پرده بیا پریوه خوا کړه، دمیرمني پام اوس هم زموږ پرخوا و، غږ یي را رسیده ځکه یي له سرښورولوسره سم راته وویل :

- سفرمو په خیرو ...

-مننه ،

-افغان یي ،

هو،

-په کاناډا کي دي څه کول ؟

-کورنی مي همدلته ده،

-نوډیلي ته دڅه له پاره روان یي ؟

-هلته ډیره موده اوسيدلی یم ، درس مي هلته ویلی، ښه را باندې لګیږي ...

-واو ،

داسي ښکاریده چي یوڅه راباندې شکمنه شوې وه، خوبیاهم باوري نه وه ، ځکه اوس زما اودې دواړو ستورې په لویدو وو، ځوځلوییښت کاله مخکي او اوسنی حال ، دوه بوډاګان، اوهغه هم له ځوځلوییښتوکالو وروسته په یوه الوتکه کي ... داسي یوڅه نورې خبرې موهم سره وکړې، الوتکه کښته شوه، کالي مالي موسره واخیستل اودروازې پرانیستلوته انتظارشوو، خو دې بیاهم درګرده پوښتني راڅخه کولي ...

-په کومو کالوکي هندوستان ته راغلی وې ...

-په اتیایمه لسیزه کي ...

-درس دې چیرې ویلی ؟

-په ډیلي کي ...

-نوم دې څه دی؟

-اتل

-اتل پښتون ؟

-هو، ته ځنګه پوه شوې چي زه اتل پښتون یم .

- انګریزي استاده د څوک وه ؟

-شبنم مدم ...

-تاته به یي هره ورځ څه ویل ؟

-نه پوهیږم هیرمي دي ؟

-په انګریزي کي چا مرسته درسره کوله ؟

-له یاده مي وتلي ...

په همدغه شیبه کي دالوتکي دروازه خلاصه شوه ، دا مخکي اوزه ورپسي وم ،

ځوان سردارجی پرما پسي و، کله چي موږ په خبرو شوو، راته په خندا شو :

-میرمني لکه چي وپیژندلي ؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

- نه پوهیږم ... لکه چې ...
-بنه وه چې دسفرپه پیل کې یې نه وې پیژندلی، ټول سفرخوبه موزه لیونی کړی وم ...
موږ له الوتکې راووتو، د لارې په څنګ راته ودریده، په غاړه کې یې لاس را واچول،په چغو چغو او درنه ژړا کې یې ترخوله را ووتل :
-زه خوشې یم ، خوشې ، هم هغه ستا ټولګیواله ... هم هغه بنګالی ... هم هغه چې یونا ځاپه امریکا ته درڅخه راغلم ...
دخوشې له ژړا سره ماته هم ژړا راغله، کلکه غیږمې ورکړه ... اود ژوند دغه تصادف ته مو ترډیرو سره وژړل ... په هوایې ډګرکې یویونیم ساعت سره کیناستو، دا کلکته روانه وه، پخوانیبادونوته موهم سره وژړل اوهم مو وخندل، خپل زوی ته یې تلیفون وکړچې زما له پاره سبا ماښام ته ټکټ بوک کړي، په څوشیبوکې داکارهم، دسبا ماښام له ٍپاره وشوچې زه باید کالکټې ته ورشم، ځکه چې په راتلونکې اوونی کې د دې د کوچنی زوی واده و ...
- سمه ده نن آرام وکړه ، سبا به زه د کلکتې په سوبهاش چندربوس هوایی ډګرته درته انتظاروم اوکه زه نه وم نویوڅوک به له همدغې لوحې سره درته ولاړوي چې:

**پټآن کا یاري ، شیرکا سواري...**

نوی ډیلی ۲۰۲۴ کال د فبروري ۱۷


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ